# Stori Magazine 5th Issue
# April-May 2009




# ستوري مجله پینځمه ګڼه
# ۲۰۰۹ ع کال

# STORI ستوري

خپلواکه، کولتوري او ادبي خپرونه
دریم کال، پینځمه ګڼه، حمل _ ثور ۱۳۸۸ ل/ اپریل_ می ۲۰۰۹م کال

**د امتیاز خاوند**
د خاص کونړ ادبي او کلتوري ټولنه

**مسوول مدیر**
عرفان الله کوټوال /0772931465

**مرستیال**
هدایت الله حیات /0774322484

**کتنپلاوی**
بصیر بیدار ستوری، محمد داود صدیقي، عصمت الله ملنګ، فضل الهادي عاصم، میر سلام مجاور، ګلرنګ کوچوان

**سلار کاره ډله**
څېړندوی عبدالقیوم زاهد مشواني، څېړنیار وجیه الله شپون، شفیع الله تاند

**همکار غړي**
رحیم الله خان، داود شاه داود، صادق فقیر، رضوان الله شپون

**کلنۍ ګډونبیه**

| | |
|---|---|
| افغانستان کې | ۲۰۰ افغانۍ |
| پاکستان کې | ۲۵۰۰ کلداري |
| په نورو هېوادونو کې | ۵۰ امریکایي ډالره |

**د یوې ګڼې بیه:**

| | |
|---|---|
| افغانستان کې | ۲۵ افغانۍ |
| پاکستان کې | ۳۰ کلداري |

"ستوری" ستاسو خپرونه ده، ستاسې لیکنې، نیوکې او وړاندیزونه په ورین تندي مني

## فهرست

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| سرلیکنه | ۱ |
| انسان ولې اشرف المخلوقات دی؟ | ۲ |
| ډاکتر کبیر ستوری د خپلو لیکنو | ۴ |
| د خوشال خان خټک سرېتوب | ۸ |
| د یوویشتمې صدی ځلنده ستوری | ۱۴ |
| د پسرلي احساس | ۱۸ |
| له بختیار خټک سره مرکه | ۲۰ |
| ژب سیاست او ژب پلان | ۲۶ |
| پښتو او د پښتنو مضر احتیاط | ۳۳ |
| د زنداني شاعر زنداني انګازې | ۴۰ |
| د ستورو کاروان | ۴۶ |
| د ستورو قافلې | ۵۴ |
| افغانستان د جنګونو ډګر | ۵۶ |
| د رحمان بابا مزار والوځول شو | ۵۸ |
| له اختر محمد "مومند" سره مرکه | ۶۱ |
| کیوکېشن کراتې | ۶۴ |
| یو ځل بیا د زیري په بڼه | ۶۷ |
| تیاره او رڼا | ۶۸ |

### خبرتیا:

د ستوري مجلې اداره له خپلو ټولو لوستونکیو څخه هیله کوي، چې د مجلې په هکله خپل وړاندیزونه او لیکنې د ادارې په پته راواستوي، ترڅو موږ د لوستونکیو په وړاندیزونو د مجلې لیکنې کره او بشپړې کړو.

مننه
اداره



سرلیکنه:

## پړ مې کړه، نو مړ مې کړه

هسې خو په نړیوالو مطبوعاتو کې د مجرم د محاکمې انګازې تر اسمانه خېژي او په بېلابېله بڼه دغه کړغېړن انځور خلکو ته ترسیموي، چې ګوندې هر څوک چې په دولتي او یا شخصي ډول کوم ناروا عمل ترسره کړي، چې هغه قابل د قانوني زغم نه وي، نو په وړاندې یې د محاکمې مېز ودرېږي او د تحقیقاتو او پلټنو وروسته لازمه جزا ویني، خو له بده مرغه چې زموږ پښتون ولس د شمسیي نظام د اتیایمې لسیزې له پیل څخه تر نن پورې په ډېرو ډېرو ووژل شو او لا پسې د مرګ توره لړۍ اوس هم روانه ده، چې زیات وګړي مو نارینه، تور سرې، ماشومان او سپین ږیري لا د روا او ناروا په سپیناوي کې د مرګ کومې ته ولوېده او ددې څو برابره نور مو لا د سولې ساتنې په نوم د ړندو ځواکونو د سهوې او تېروتنې له اصطلاح څخه قربان شول

په دې وروستیو کې مو د ولس مشر خوارکي خوله په وړاندیزونو باندې ستړې شوه، خو هېڅ طرف د خپل کبر غوړونه ددغه بېچاره خبرې ته ورکاږه نه کړه او خپلې دغه توري پلمې یې جاري وساتلې او زموږ د عنعناتو، مذهبي مراسمو او دودونو پر آب یې پرلپسې بمباری وکړې زموږ ناوې په سرو لاسونو د لس ګونو نورو تور سرو او ځوانانو سره د مرګ د توري بلا خوراک شوې، چې دا حقیقت له ټولې نړۍ څخه پټ نه دی په ځانګړي ډول دغه واویلا د پښتون په غولي کې جریان لري

د ستوري اداره ددغه اصلاحاتو غوښتونکې ده، چې دا ډول مرګونو ته نور د پای ټکی کېښودل شي، د بشر د حقوقو نورمونو ته، د بیان د آزادۍ حق ته او همدا شان د بشري کرامت ارزښتونو ته درناوی وشي او افغان ولس ته، چې لا له پخوا څخه ژوبل دی، د همکارۍ او مرستې لاس ورکړل شي، نه دا چې لا پسې ټپي شي

اداره





سید اغا میاخیل

# انسان ولې اشرف المخلوقات دی؟

خدایﷻ پخپل کتاب کې انسان خپل خلیفه یاد کړی، کله یې صعیفه او کله یې د هغه د بناپسته پیدایښت بیان کړی دی. کله یې تاواني بللی، خو کله یې د هغه لپاره د جنت زېری ورکړی دی. د ګناه کولو نه یې منع کړی دی او په کولو سره یې ورته د دوزخ او سخت عذاب خبر ورکړی دی.

کله چې الله تعالی د حضرت ادمؑ د پیدا کولو اراده وکړه، له پرښتو څخه یې وپوښتل چې زه په ځمکه خپل خلیفه پیدا کول غواړم. پرښتو وویل، چې که چېرې دې انسان پیدا کړ، دوی به په ځمکه کې شر شدت کي او د یو بل وینه به تویوي، خو الله تعالی بیا هم د حضرت ادمؑ پیدا کول لازم وګڼل، ځکه چې د ځمکې په سر د الله تعالی نایب ته ضرورت و، ځکه انسان په نورو مخلوقاتو غوره وګڼل شو.

هغه پرښتې، چې د ادم د پیدا کېدو مخالفت یې کاوه، الله تعالی په دې مجبوره کړې چې ادمؑ ته سجده وکړي، د سجدې کولو سربېره ادمؑ د پرښتو لومړنی استاد هم شو، ځکه چې الله تعالی له پرښتو نه د ځینو شیانو نومونه وپوښتل، هغوی خپله عاجزي وښوده، نو الله تعالی ادمؑ ته وفرمایل، چې دغه ټول شیان چې تاته یاد دي، پرښتو ته وروښایه. ادمؑ ورته هغه ټول نومونه وروښودل، ځکه خو انسان اشرف المخلوقات شو. انسان د نړۍ پرمخ د الله تالی نایب دی او د هغه څه دنده ورپه غاړه شوې ده، کوم چې د کاینا تو د بقا او وجود لپاره ضروري وي. انسان دنده لري، چې دروغ، قتل، حرام، غلا، دوکه، بد کردار او هر هغه کار چې د کاینا تو او د کاینا تو پرمخ د موجودو موجداتو د زیان لامل ګرځي، ځان وساتي او همدغه کردارونه دي چې انسان د نورو موجوداتو فرمان روا جوړوي او د شرف درجه ورکوي.

سوال پیدا کېږي، چې هر بني نوع انسان اشرف المخلوقات دی او که نه هغه خلک، چې شریف کردار او شریف خاصیتونه لري؟ د الهي امر منونکي انسانان شریف او سرغړوونکي یې شریف نه دي او څوک چې شریف نه وي، اشرف المخلوقات نه شو، ځکه چې دغه لقب شریفو خلکو ته ورکول کېږي. سره زر په نورو عناصرو باندې ځکه لوړ ګڼل کېږي، چې د سرو خاصیتونه د نورو عناصرو په پرتله ښه او د قدر وړ دي.

انسان هم د خپلو خواصو له مخې په نورو موجداتو باندې غوره دی، ګوندي، هډوکي، وینه او غوښه خو نور ځناور هم لري.

عقل یو هم له هغو خواصو نه دی، چې په نورو موجوداتو د برترۍ شکل جوړوي، خو سوال پیدا کېږي، هم دغه عقل انسان ته د نورو د تباهۍ او بربادۍ لارې هم ورښایي او که چېرې یو انسان د عقل په وسیله نورو موجوداتو ته نقصان ورسوي، آیا دغه هم په اشرف المخلوقاتو کې راځي؟.

نه اشرف المخلوقات هغه انسانان بلل کېږي، چې د خیر او شر ترمنځ توپیر کولای شي او د شر پرځای خیر لټوي، ځکه چې اشرف د شریف نه اخیستل شوی او شریف د شرافت نه ډک خاصیتونه لري.

مخکې ذکر شوه، چې صرف کردار انسان ته د شرافت درجه ورکوي، ګوندي غوښه هډوکي او وینه خو د نورو ځناورو وجودونه هم تشکیلوي. لنډه دا چې د کاینا تو پرمخ د خیر لټول د نورو انسانانو د بقا او سالم حیات فکر ساتل، د اشرف المخلوقات خاصیت غوره کوي، نو اوس تاسو پرېکړه وکړئ چې آیا په نننۍ نړۍ کې انسانان که ځناور ډېر دي؟ ځکه نننۍ دنیا په هغه معیارونو او تول پوره ده، کوم معیارونه او تول چې د هغوی لپاره الله تعالی غوره کړي ول.

آیا نننۍ دنیا چې ځینې لا ځان ته پخپله Social خلک وایي، د اشرف المخلوقاتو په صف کې ودرولی شو؟ دوی نورو انسانانو ته تکلیف او ضرر زیات رسوي او که نه هغوی ته ارام ورکوي؟

آیا دوی د نورو وحشي حیوانانو سره بدلون لري، آیا نننۍ دنیا د ګوتو د شمېر نه علاوه نور په دې تول پوره دي، چې اشرف المخلوقات وبلل شي؟

آیا د نننۍ دنیا اور بلونکې یا د لومړي، دویم او دریم نړۍ والو جنګونو عاملینو ته شریف خلک ویلای شو؟

آیا هغوی یاد دوی په اشرف المخلوقاتو کې راتلای شي، ځکه ویلای شو چې نننی انسان اشرف المخلوقات نه، بلکې شریر المخلوقات دی او بس.

***

(چینایي) او تمیل. هغه سینګاپوریان، چې په انګریزي ژبه کې لاس لري، عموماً په سیاست او اقتصاد کې د غټې برخې خاوندان دي.

"English-knowing bilinguals govern the county, walk the corridors of power, preside at boardroom meetings, teach in Schools, and rule in the courts of law". Anne Pakir at National University of Singapore, (Bilingual Education with English ad an official Language, social cultural implication, Georgetown University press. Georgetown Universityh Round Table on Languages and Linguistics, 1999, electronic version, pp. 341-349.

سره له دې، چې په سینګاپور کې چینایان ډېره کیان (۷۷ سلنې) دي ملای ژبه ددغه هېواد ملي ژبه ده، د سینګاپوریانو د پېژندلو (هویت) او احساس ژبه ده. د اسرائیلو د دولت په جوړولو (می ۱۹۴۸) او د ملي احساس په پیاوړي کولو کې د Hebrew یانې عبري ژبې راژوندي کولو revitalization او وطني کولو revernacularization ستر رول لوبولی دی او دعبري ژبې په ساتنه کې یهودي دین ستر رول لوبولی دی. د سینګاپور او اسرائیلو په ژب سیاست Language Policy به وروسته وغږېږم.

## ملي او رسمي ژبه:

د ملي او رسمي ژبې تر منځ په توپیر کې پخپله د امریکې ستر څارنوال او د بندیانو د عذابونو یو غټ پلوي حقوقپوه البرتو ګونزالیس Gonzales ښکېل شوی و (۲۲ می ۲۰۰۴) اوس په امریکه کې ځینې خلک په دې پسې اړم شوي دي، چې انګریزي ژبه د اساسي قانون د تعدیل له لارې رسمي ژبه official Language کړي. د نورو هېوادونو د خلکو په شان، امریکایان ګڼ قومي نیکونه او ګڼ تاریخي احساس نلري. د ګڼ دین احساس هم پکې غښتلی نه دی، ښایي له دې امله د خپل پېژاند لپاره انګریزي ژبې ته مخ وراړوي. د امریکې ستر څارنوال ګونزالیس تېروت او په خپله توضیح کې یې ملي ژبه د رسمي ژبې په ځای وکاروله. ګونزالیس راپوترانو ته وویل، چې "ولسمشر اجورج ډبلیو بوش! هېڅکله ددې ملاتړ نه دی کړی، چې انګریزي دې ملي ژبه شي.

"He Never supported making English the National Language".

په همدې ورځ (۲۲ می ۲۰۰۴) لږ وروسته سپینې ماڼۍ خپل سپیناوی وکړ:

(The attorney general {Alberto Gonzales} got caught in a linguistic snare. He tool national language to mean what we describe as official language. We have no problem in identifying English, our common linguistic currency ad national language. White house spokesperson Dana Perino in "Adventure in Semantics: English is a national not official language, CBS News, electronic version, posted by Hillary profita (22 may 2006).

هغه ولس، چې خپل دولت یې نه وي جوړ کړی، رسمي ژبه نلري؛ خو په مقابل کې یې





ملي ژبه لري. که یو ولس د خپلواکۍ په ګټلو سره او دخپل دولت په جوړولو سره د رسمي ژبې وظیفه په غاړه اخلي. د بېلګې په ډول دوه هېوادونو ته ګوته نیسم:

د امریکې په اساسي قانون کې د ملي یا رسمي ژبې په هکله هېڅ نشته؛ خو د خپلواکۍ اعلامیه (جولاي ۱۷۷٦) او دوه اساسي قوانین یې په انګریزي ژبه لیکل شوي وو (د کنفډریشن مواد په نومبر ۱۷۷۷ کې او اساسي قانون، چې تر نن پورې چلېږي. په ۱۷۸۷ زېږیز کال کې). له دې امله انګریزي په امریکه کې طبعاً ملي او بالعمل رسمي ژبه ده بل مثال په افریقا کې د تازه جوړ شوي دولت دی. په ایریتریا Eritrea کې، چې نهه قومونه پکې ژوند کوي د یونیسیف UNICEF (۱۹۹۴).

د معلوماتو له مخې تیګریګنا Tigrigna قوم پکې تر ټولو ډېر وګړي لري؛ خو هلته د یوه قوم ژبه هم رسمي ژبه نه ده ګڼل شوې، ددې لپاره، چې د ژبو کړکیچ رامنځته نشي ددې په مقابل کې کیسواهیلي Kiswahili ددغه هېواد ملي ژبه منل شوې ده، دلیل یې دا دی، چې کیسواهیلي د خپلواکۍ په جګړې کې د سیاسي سروالې پتې د راشي درشي ژبه وه.

C.M. Rubagumya (ed.), 1990, quoted in "Multilingualism and National Building: Language and Education in Eritrea. By Chefena Hailemariam, Univresity of Asmara, Eritrea, sjaak Kroon, Tilburg University, Netherlands, and Joel Walters, Bar-Ilan University Israel-electronic version, pp. 475-493.

رسمي ژبه هغه ژبه ده، چې حکومت پرې چلېږي او په حکومت کې چلېږي. رسمي ژبه هغه ژبه ده، چې حکومت رسمي اعلان کړې وي، او یا یې عملاً د خپلو وظیفو او مسولیتونو په ادا کولو کې کارولې وي (لکه په تړونونو کې، په قوانینو کې، په محکمو کې، په ګڼو اعلامیو کې او په سیاسي دریځونو کې). رسمي ژبه هغه ژبه ده، چې د دولت د شتون په حالت کې رامنځته کېږي، یانې حکومت یې اعلاموي او یا په یو ډول ښيي، چې دغه ژبه د هغه ملت ژبه ده، چې د دولت د حاکمیت لاندې وي:

Declared by a government to be the language of the governed nation.

په تاریخ کې یوه استثنا هم شته په داسې حال کې، چې یهودانو په فلسطین کې دولت نه لاره، د یوې سیاسي ډلې entity په څېر د هغوی ژبه (عبري) Hebrew په فلسطین کې د انګریزي او عربي ژبو په شان د برتانوي واکمنانو له خوا رسمي اعلان شوه. په زېږیز کال ۱۹۲۲ کې فلسطین د ملتونو د ټولنې Language of Nations د پرېکړې له مخې د برتانیې په حاکمیت (قیمویت) یانې Mandate کې ورغی:

"All ordinances official notices and official forms of the Government..willbe published in English, Arabic and Hebrew.

رسمي ژبه د حکومت په ورځني فعالیت کې کارول کېږي او یو اورګاړي ته ورته ده، چې له یو بندر نه یو ښار ته مالونه رسوي، یو لوبښی دی، چې د حکومت کارونه سرته ورسوي (په پارلمان کې قوانین، په محکمه





کې د قوانینو تفسیر او تطبیق، د فورمو او لایحو جوړول، د اساسي قانون تعدیل، د اساسي قانون تفسیر، عسکري او ملکي اداره، عسکري او ملکي تعلیم او تربیه، تړونونه او اعلامیې).

د دولت شتون د یوې ژبې د رسمیت لپاره عموماً اساسي شرط دی، وړاندې له دولت نه رسمي ژبه نشته؛ خو ملي ژبه شته، د یوه دولت په رسمي سند کې، چې رسمي ژبه نه وي ښودل شوې، ملي ژبه یې رسمي ژبه ده لکه په اندونیزیا کې. په اندونیزیا کې له پېنځه نیم سوه نه زیاتې ژبې او لهجې شته بهاسا اندونیزیا Bahasa Indonesia په اساسي قانون کې د اندونیزیا (ملي ژبه) ده، چې په تجارتي، تربیوي او حکومتي چارو کې چلېږي.

ملي ژبه هغه یوه ده، چې د یوه ملت ډېره کیان پرې غږېږي او د ملت لپاره د اصالت atuthencity او پېژاند (هویت) ارزښت لري. ملي ژبه له تاریخي احساس او ویاړه ډکه تېره زمانه منعکسوي. ملي ژبه د ملي بیرغ او ملي ترانې په شان د سمبول مقام لري، ملي ژبه د همغه ملت کلتوري ماهیت او اتبار ښيي، ملي ژبه د خلکو په منځ کې د ملي تړون احساس او ژمنه منعکسوي، ملي ژبه په خلکو کې د واحد ملت احساس غښتلی کوي، ملي ژبه خلکو ته خوند ورکوي او زړونه کوشېروي او په ملي ژبه د (ویلې کېدلو بټۍ) ده. امریکې ته melting pot یانې د ویلې کېدلو بټۍ وایي. زما په اند، په ټولنیز لحاظ امریکې ته "د سلاتې کنډولی" ویلی شو، ځکه چې ټول ټال امریکه د بېلا بېلو نژادونو د سلاتې کنډولی ته ورته ده. خو پخپله انګریزي ژبه پکې هغې بټۍ ته ورته ده، چې بېلا بېل نژادونه په ښوونځي او پوهنځي کې په کلتوري لحاظ ویلې کوي او راتلونکي تړون او بریالیتوب ته یې سیخوي. یو هېواد، چې ملي ژبه ونلري د ملي دولت په کفایت کې یې شک وي، یو هېواد، چې ملي ژبه ونلري، ملت به یې د یتیم احساس کوي. پردۍ ژبه ملي ژبه کېدلی نشي؛ خو رسمي ژبه کېدلی شي. ملي ژبه عمومي تړونکې او کوشېرونکې ژبه ده ملي ژبه اصلاً ملي کلتور برخه ده، نه د دفتر کلتور. ملي ژبه دولتونه نېکمرغه دي، چې رسمي ژبه یې په ولسي ګرانه وي، یانې ملي او رسمي ژبه یې یوه وي. هغه دولتونه نېکمرغه دي، چې رسمي ژبه یې د ملي ژبې په خدمت او پالنه کې وي، هغه دولتونه نېکمرغه دي، چې په رسمي ژبه کې یې د بل دولت لاس نه وي، هغه دولت بدمرغه دی، چې رسمي ژبه یې د ملي ژبې سره په ټکر کې وي.

په کامرون کې انګریزي او فرانسوي دواړه رسمي ژبې دي او پاتې نورې د هېواد خپلې ژبې ملي ژبې دي. که د یوه هېواود په اساسي قانون کې یوه ژبه ملي ګڼل شوې وي، مطلب ورنه رسمي ژبه هم ده. په سعودي عربستان کې په یوه سند کې لیکل شوی اساسي قانون نشته: خو عملاً عربي د هېواد ملي رسمي او دیني ژبه ده. د ایران د اسلامي جمهوریت په اساسي قانون





(۱۹۸۹) کې راغلي دي: (زبان و خط رسمي و کتب درسی باید به این زبان و خط باشد.) اټکل پنځوس سلنی (۵۰%) ایرانیان په فارسي غږېږي. بلنه نیمایي یې په ترکي، عربي، کردي او بلوڅي ژبو غږېږي. عربي سره له دې، چې د سپېڅلي قرآن او مبارکو حدیثونو ژبه ده، د ایران په اسلامي جمهوریت کې رسمي ژبه نه ده.

اروپایي اتحاد EU دروېشت (۲۳) رسمي ژبې لري. فنلنډ دوه (۲) ملي ژبې لري: سوامي (فینسي ژبه) او Finlands Svenska یانې فنلنډي سویډني. په فنلنډ کې سویډني ژبه، چې شپږ سلنی (٦%) ویونکي لري ددغه هېواد په هر ځای کې اتبار لري، په مقابل کې یې پخپله فنلنډي ژبه، چې دوه نوي سلنی (۹۲%) ویونکي لري، په ارته کچه کارول کېږي؛ خو هلته هر چېرې قانوني اتبار نلري، په فنلنډ کې ځینې پوهنتونونه یواځې په سویډني چلېږي: خو هلته داسې پوهنتون نشته. چې یواځې په فنلنډي ژبه چلېږي. ټول زده کوونکي باید سویډني زده کړي، ځوک، چې د سویډني ژبې بری لیک ونلري، دولتي ماموریت به یې په برخه نشي. ورته شرایط په اقلیتي سویډنیانو باندې، چې فنلنډي ژبه زده کړي، په لږه اندازه اېښودل شوي دي.

په مالټا کې مالټایي ژبه، چې اکثریت پرې پوهېږي، ملي ژبه ګڼل شوې ده او د انګریزي سره غبرګه رسمي ژبه هم ده. په فلپین کې فلپینو ملي ژبه ده او د انګریزي سره غبرګه رسمي ژبه هم ده. په پاکستان کې اردو، چې اته سلنی (۸%) وګړي پرې غږېږي، رسمي ژبه ده. انګریزي، چې په پاکستان کې د سروالې پتې (نخبې) ژبه ده، هلته رسمي ژبه هم ده. د هند په اساسي قانون یا کوم بل قانون کې کومې ملي ژبې ته ګوته نه ده نیول شوې؛ خو هندي په اساسي قانون کې د هېواد رسمي ژبه ګڼل شوې ده. ایالتونه کولی شي، چې یوه یا څو ژبې د خپلو ایالتي حکومتي چارو لپاره رسمي معرفي کړي، لکه پنجابي، بنګالي، اردو، سانسکریټ، که د مرکزي حکومت کوم لیک د هند ایالتونو یا سیمو ته په انګریزي ژبه استول کېږي، باید هندي ژباړه یې ورسره مل شوې وي. دلته وینو، چې انګریزي ژبه هم د هند رسمي ژبه ده. په فلپین کې هم سیمه ییزو ژبو ته اجازه ورکړل شوې ده، چې پخپلو اړوندو سیمو کې د رسمي ژبو په څېر وکارول شي. د تاجکستان رسمي ژبه تاجکي ده، د ازبکستان رسمي ژبه ازبکي ده، او د حکومت ماموران باید په دغه ژبه وپوهېږي، د ترکمنستان رسمي ژبه ترکمني ده، د زیمبابوې رسمي ژبه انګریزي ده. د ملیزیا رسمي ژبه بهاسا مېلایو Bhasa Melaya ده، چې اکثریت پرې غږېږي، په کمبودیا کې خمېر khmer قوم ستر اکثریت (۹۲%) لري او ژبه یې، چې خمېر نومېږي

رسمي ژبه ده. د ولسي چين په شان، ماندارين Mandarin چايني ژبه د تايوان رسمي ژبه ده.

## ولې ژبني ټکرونه:

اووه لس (۱۷) کلونه وړاندې د زیږیز کال ۱۹۹۱ پورې په سهیلي ترکیه کې په کردي ژبه سندرې ویل منع شوي وو. شپږ کلونه وړاندې زیږیز کال ۲۰۰۲ کې هغه پوهېدونکي (محصلین) د پولیس له خوا ونیول شول، چې په پوهنتون کې یې په کردي ژبه د تدریس غوښتلیکونه petitions د پوهنتون مسولینو ته وړاندې کول.

په ولسي چین کې د (تام او جیري) Tom and Jerry په نوم تلویزني کارتون ډېر مینه والان لرل. دغه تلویزني کارتون په جنګي پیشو او موږک راڅرخېده. د زیږیز کال دوه زره څلور (۲۰۰۴) پورې به (تام او جیري) د ولسي چین په سیمه ییزو ژبو (لهجو) غږېدل؛ خو وروسته مرکزي حکومت په سیمه ییزو ژبو (لهجو) کې ذکر شوی کارتوني پروګرام منع کړ.

یانې نور یې نه غوښتل، چې تلویزني پروګرامونه دې په لهجو کې خپاره شي. ددې پر ځای تلویزني پروګرامونه د ولسي چین په رسمي ژبه یانې ماندارین (Mandarin) (putonghua) کې پیل شول. له دې لارې ولسي چین غوښتل، چې ماندارین (پوتونګهوا) ژبه د ملي پېژاند د سمبول په څېر تیاوړې کړي او د یو بل سره سیمه ییزې ژبنی سیالی د ملي پېژاند د کلک سمبول په قالب کې ویلې کړي. په ولسي چین کې لهجې له یو بل سره غټ توپیرونه لري. پوتونګهوا په ماندارین لهجه ولاړه ده او ماندارین د ولسي چین په مرکز بیجنګ (پخواني پیکینګ) کې چلېږي. یانې پایتخت لهجه ماندارین رسمي اتبار لري.

شپږ کلونه وړاندې په زیږیز کال ۲۰۰۲ کې د سینګاپور حکومت په یوه کمیدي فلمي لړۍ باندې د NC_17 برغولی کېښود، یانې څوک، چې اوولس (۱۷) کلن شوي نه وي، ددغې لړۍ فلمونه نشي لیدلی. په دغه کمیدي فلمي نړۍ کې کوم بد څه نه وو، چې ځوانان په اخلاقي لحاظ بې لارې کړای شي. د سینګاپور د حکومت دلیل دا و، چې په دغه فلمي نړۍ کې (بد ګرامر) Bad Grammar کارول شوی و. پورتنۍ درې بېلګې موږ ددې پوښتنو سره مخامخ کوي:

ولې د ترکیې حکومت ته ارزښت لري، چې کومه ژبه دې په پوهنتون کې وکارول شي؟ ولې د سینګاپور حکومت د (بد ګرامر) مخه نیسي؟ ولې د ولسي چین حکومت ددې سره علاقه لري، چې کارتوني پیشو او موږک (تام او جیري) دې څنګه وغږېږي؟ ددغو درې واړو پوښتنو ځواب په یوه ټکي کې پروت دی: پېژاند (هویت)! "ژبه پیل دی".

"Language is the beginning it is part of who we are". (Rosen.

(نور په بله ګڼه کې)

***





# پښتو او د پښتنو

# مضر احتیاط

محمد اسماعیل یون

پر هره ټولنه، چې افراط او تفریط واکمن شي، ټولنه له خپل انډوله وځي او د استاد الفت په اند د یوه پرځای دوه تنه تلفات ورکوي. مضر احتیاط هم د تفریط یو ډول دی، چې زیان یې له افراط سره خپل انډول برابروي. ځکه خو د اسلام سپېڅلی دین د افراط او تفریط دواړه حالته مودود کړي او منځنی حد یې غوره بللی دی.

مضر احتیاط نه یوازې یوه ټولنیزه ناروغي ده، بلکې د یو شخص د ځاني ژوند د ښېرازۍ او ودې پر وړاندې خنډ اچوونکې او رنځوونکې ناروغي هم ده. استاد الفت په ټولنیز ژوندانه کې د مضر احتیاط پر ناروغۍ د یوه اخته کس حالت بیانوي، چې مضر احتیاط یې د جرئت وزرونه تړلي او د اوهامو سیوري یې ورته پر ذهن خور کړي دي.

دا کار ددې سبب شوی، چې دا کس د ژوند له ډېرو نعمتونو بې برخې شي.



استاد الفت وايي:

شمي اکا زموږ په کور او کلي کې په ډېرې هوښیارۍ مشهور و او هر چا چې به کومه مشوره غوښتله، ده ته به راتلل. دده د هوښیارۍ او احتیاط یوه نښه دا وه، چې ده تر اخره پورې خپل کور ته برق راونه ووست او ویل به یې که کله برق شارټ شي، نو حریق به واقع شي او کور به مې وسوځي.





دده دا عادت و، چې په موټر کې به نه سورېده او ډېر لرې ځای ته به هم پیاده روان و، ځکه چې د موټر له چپه کېدلو وېرېده او احتیاط یې کاوه.

هو! دی له ډېره عقله پیاده ګرځېده او کور کې به یې رڼا هم ډېره لږه وه.

د پښتو ژبې د خدمت او پالنې په اړه هم د ځینو پښتنو چلند دې مضر احتیاط ته ورته دی.

یو شمېر روڼ اندي، سیاستوال او نوم څرګندي پښتانه ددې لپاره له پښتو پالنې او ان پښتو یادونې او ګړنې څخه ډډه کوي، چې څوک ورته ژبپال او ملتپال (نشنلست) ونه وايي.

دوی داسې فکر وي، چې که یو ځل چا ورته نشنلېست او فاشېست ووایه، دا تور خو نو بیا له (کفره) هم بدتر دی، بیا خو چې هرڅومره ځان سپین کړي، سپینېدای نشي.

د پښتو ژبې دښمنانو له ډېرې پخوا نه د یو منظم او سنجول شوي پلان له مخې پښتو ضد چارې اوډلې دي. په دې ډول پښتو ضد هڅو کې یوه هڅه همدا یرغلیز تبلیغ او چلند دی، چې دوی یې د یوې اساسي وسیلې په توګه کاروي. دوی ټول عمر د پښتنو د ښېرازۍ رګونه زېښلي، د پرمختګ په لاره کې ورته خنډونه جوړ کړي او جوړوي یې، خو چې کوم اندیال (شعوري پښتون) ورته ووايي، چې ولې؟ نو بیا پرې سم دلاسه د نشنلېست او فاشېست تور پورې کړي. زموږ ځینې په زړه سپېڅلي پښتانه یې د مکارۍ په همدغه جېل کې راګیر کړي او ان تر دې وخته یې د خلاصون لاره نه ده پیدا کړې. که کوم هڅاند پښتانه له دغه ژبني زېښناک نه د وتلو رپې رپولی، نو بیا زیاتو پښتنو او نا پښتنو پرې په دې پلمه د ملامتۍ اور پورې کړی، چې د هېواد د وروڼو قومونو او "ملیتونو" ترمنځ بې اتفاقي او ژبني تضادونو ته لمن وهي. په افغانستان کې د پښتنو او د هغوی د ژبنو حقوقو د غصبوونکیو ترمنځ ورورې هغه د اوښ او لېوه د ورورۍ مثال لري.

وایي چې یو وخت د اوښ او لېوه ترمنځ د ورورۍ یو تړون شوی و، دواړه په یوه کور کې اوسېدل، له خپلو اولادونو سره یې ګډ ژوند کاوه، ټول به د یوې کورنۍ د غړیو په څېر اوسېدل. د دوی ترمنځ دا تړون هم شوی و، چې یو د بل اولادونه به خپل اولادونه ګڼي او توپیر به یې نه کوي. هر چا چې د دواړو ترمنځ توپیر وکړ، هغه به ملامت وي.

ژوند څو موده همداسې تېر شو، یوه ورځ لېوه او اوښ دواړه د سارا پر لوري له کوره بهر شول. څرنګه چې د دواړو لاس ته څه ورنه غلل، نو وخت پرې ډېر تېر شو نو هم د اوښ بچیان او هم د لېوه هغه ښه وږي





شول. د لېوه د بچیانو نور تاب رانغی، نو ټوپ یې کړ د اوښ د یوه بچي اورمېږ یې تاو کړ، وینه یې وڅښله او غوښه یې هم وخوړه. کله چې اوښ او لېوه دواړه کور ته راستانه شول، نو ګوري چې د اوښ د بچي یوازې پوستکی پاتې دی او بس. اوښ چې دا حالت ولید، نو له ډېر خپګانه یې چیغه کړه: (هله زما بچي) لېوه چې د اوښ (زما بچي) غږ واورېد، نو فوراً یې پرې نیوکه وکړه او ورته یې وویل، چې ته ملامت یې، ته د ورورۍ پر اصولو نه پوهېږې، تا ولې زما او د خپلو اولادونو ترمنځ توپیر وکړ؟ تا ولې وویل (زما بچي) آیا زما بچي ستا بچي نه دي؟

له ژبني پلوه د پښتنو او پښتو ضد کسانو ورورې همدغه مثال لري، په افغانستان کې پښتو او پښتانه تل په خپل حاکمیت کې هم محکوم ول، هم محروم، خو د ملامتۍ ګوته هم دوی ته نیول کېږي، هم یې ژبه زېښل کېږي او هم "فاشیستان" ګڼل کېږي. که یو ناپښتون ټول عمر د پښتو، ژبني حقوقو زېښنې او یو پښتون هسې وویل، چې ولې پښتو؟ نو بیا سم له لاسه ورته ووايي، چې ته ولې پښتو یادوې؟ دا خو نېشنلېستي او ملیتي مسایل دي.

د پښتو ضد ډلو ټپلو دغو هڅو، اغزن چاپېریال او نورو نادودو له فرهنګي او ژبني پلوه پښتانه پر څو ډلو وېشلي دي:

۱_ یو هغه ډله پښتانه دي، چې خپله ژبه، خپل کولتوري، ملي او هېوادني مسوولیت پېژني، د ملت جوړونې په بهیر کې د ژبې پر ارزښت هم پوهېږي او د افغانستان د ملي یووالي او خاورې د بشپړتیا لپاره د پښتو پر ستر اهمیت او رول هم پوهېږي. دوی د اندیالو هېوادپالو او ملت رغاندو پښتنو افغانانو په توګه د پښتو ژبې پالنه، بډاینه، وده او پرمختګ خپله دنده بولي او په دې لاره کې له هیڅ ډول هاند او هڅو ډډه نه کوي. دوی په دې برخه کې دومره منډې تړې کړي او کوي یې، چې آن خبره یې د ځاني ژوند د بلهارۍ (قربانۍ) تر بریده هم رسولې ده. په حقیقت کې د همدغې ډلې د بې سارې قربانۍ، اند و هڅو برکت دی چې پښتو د پردیو له یرغلیزو هڅو او د خپلو پښتنو د بې تفاوتۍ له چلندونو سره سره تراوسه ژوندۍ پاتې او لا وده کوي.

۲_ دویمه ډله هغه پښتانه دي، چې نه یوازې پښتو نه پالي، نه یې وايي او نه یې لیکي، بلکې پر ضد یې هم دي. دا ډول پښتانه اکثره په پښتو ضد مورچل کې ناست دي او نورو پښتو ضد ډلو سره یوځای پر پښتو ډزې کوي.

دې ډلې اکثرو پښتو هېره کړې، لیک او وینا په بله ژبه کوي، د همغې ژبې له

لوست، وينا، موسيقي، او خبرو خوند اخلي. خپلې شخصي، اقتصادي او نورې ګټې هم په هماغه ژبه کې ګوري. پښتو ضد ډلو ټپلو لپاره دا ډول پښتانه د پښتو ځپلو ډېره ښه وسيله ده. دا رنګ پښتانه په پښتو دښمنۍ کې له اصلي "ستميانو" نه هم څو ځپکه تېر دي. هر پښتون به يې ډېرې بېلګې ليدلي وي، دا ډله کېدای شي "ستمي پښتانه" وګڼل شي.

۳_ درېيمه ډله هغه پښتانه دي، چې د بې تفاوتۍ پر غونډۍ ناست دي. د نړۍ له ښه او بده خبر نه دي او هرڅه اسماني پېښې ګڼي. په دې ډله کې اکثره نالوستي کسان راځي. مضر احتياط کاري هم په همدې ډله کې راځي، چې د ډېر احتياط له کبله ځانته د بې توپيرۍ حق ورکوي او دا لا هم پرې سرباري کوي، چې والله نو موږ ته خو دا او هغه ژبه يو شی دی. بې تفاوتانو کې د پښتنې ټولنې يوه غټه برخه راځي، چې نالوستي، ناشعوري يو شمېر روحانيون او نور پکې رانښکېل دي. په ټوليز ډول د پښتو په باب پښتانه پر همدغو درېو کټګوريو وېشل کېدای شي.

شعوري پښتانه، پښتو ضد پښتانه او بې تفاوتان.

اوس راځو دېته چې د ژبني فعاليت له مخې پښتانه په کومه کچه دي؟

د شعوري پښتنو ټول ځواک په دې برخه کې اوبه کېږي، چې له پښتو ضد پښتنو سره مقابله وکړي. د خپل ځواک يوه برخه له پښتو ضد پښتنو سره ليکنۍ او ګړنۍ مقابلې ته بېله کړي او خپل وخت هغو ته پر قناعت ورکولو تېر کړي او بله برخه يې د ستمي پښتنو له خوا پښتو ته د وراړول شوي زيان جبران ته بېله کړي، نو که شعوري پښتنو ډېره توره هم کړې وي، ايله به يې دومره کړې وي چې د پښتو ضد پښتنو د هڅو مخنيوی وکړي. بې تفاوتان و هسې هم وايي، چې ژبه موږ ته بې تفاوته ده او موږ پرې کوم کار نه لرو. که چېرې موږ د ژبني فعاليت له مخې د پښتون قوم هڅې وارزوو، کېدای شي ووايو چې دوه متضاد او متخاصم ځواکونه يو د بل پر وړاندې مبارزه کوي او په پايله کې يو بل دفع کوي.

ياني د دواړو وروستي حاصل صفر دی. په حقيقت کې د ژبني فعاليت له مخې د پښتنو فعاليت خنثی دی، ځکه چې يو مټ د بل مټ زور اوبهٔ کوي او د درېيم ګړي د ګوزار د مخنيوي لپاره ورته کوم ځواک نه پاتې کېږي. د ژبني فعاليت له مخې کېدای شي پښتانه او پښتو ضد ډلې ټپلې په اعدادو کې هم افاده کړو.

د ساري په توګه دا خبره ټولو ته





ثرګنده ده، چې په هېواد کې د پښتنو نفوس د نورو ټولو قومونو د مجموعي شمېر دوه برابره دی. ياني په هرو پينځه لسو تنو کې لس پښتانه او پينځه ناپښتانه دي.

اوس نو که موږ پښتانه ياني د ټول نفوس له پينځه لس برخې نه لس برخې پر درېو برخو ووېشو، نو هره برخه به درې تنه شي (د يوه تن له محاسبې پرته) که چېرې په لسو پښتنو کې درې تنه پښتو ضد پښتانه او درې بې تفاوتان له دې شمېره وباسو، نو ټول به څلور تنه پاتې شي.

که چېرې موږ درې پښتو ضد پښتانه له ناپښتنو سره يوځای کړو، نو د هغوی شمېر به اتو تنو ته ورسېږي. د بې تفاوتانو رول به هېڅ نه محاسبه کوو، خو که چېرې هغه هم محاسبه کړو، نو د ناپښتنو شمېر به له دوی هم زيات شي، ځکه چې بې تفاوتان او مضر احتياط کاري اکثره د تلې پلې ته ګوري، هره خوا چې درنه وي، همغې خوا ته ځان اچوي.

د شمېر له پلوه اته له څلورو سره مقابل دي، د ژبني فعاليت له مخې دا انډول ښيي چې په فرهنګي برخه کې د پښتنو تلفات بايد درې ځله زيات محاسبه شي، ځکه چې يو کس له تا بېل شول (لومړی تلف)، دويم ستا له مقابل لوري سره يوځای شو (دويم تلف) بېرته ستا په مقابل کې استعمال شو (درېيم تلف).

که چېرې په فزيکي جګړه کې د يو لښکر يو عسکر ووژل شي او د جګړې له ډګره ووځي، نو هغه په هماغه يوه تلف کې حسابېږي، ځکه چې د هغه رول نور د ابد لپاره ختم شي، خو د همڅنګو ژبو او کولتورونو تلفات داسې نه دي، هغه لکه د پښتنو په شان هم ځان وژني، هم خپل قوم وژني او هم بل ژوندی ساتي. نو دا تلفات څو ځلې (درې چنده) او ډېر درانه دي. د پښتو ضد پښتنو ترڅنګ بې تفاوتان او مضر احتياط کاري هم د مقابل لوري په ګټه دي.

څرنګه چې زموږ په ټولنه کې ژبنی انډول د پښتو او پښتنو په ګټه و، نو دا ډله کسان تل هڅه کوي چې واکمن بهير سره ملګري شي، ځکه چې د راحت احساس وکړي. پښتانه احتياط کاري بيا په خپل کار کې د مضر احتياط تر وروستي بريده ځان رسوي آن که چېرې په يو ژبني او فرهنګي چاپېريال کې د ناپښتو شتوالی اصلاً هېڅ مطرح نه وي او يا په هغه محيط کې هغوی ببخي وي نه، نو احتياط کاري يې ددې لپاره ګټې خوندي کوي، چې څوک ورته بيا نشنلېست او فاشېست ونه وايي.

د ناپښتنو يو چلند دا هم دی، چې دوی په ځينو حساسو وختونو او مسايلو کې له همدې ډول احتياط کارو پښتنو څخه د پښتنو د استازو (!) په توګه ګټه اخلي، ځکه هغوی پوهېږي چې که دوی د پښتنو پر ضد هر ډول هڅه وکړي، دا ډول اشخاص کوم غبرګون نه ښيي. د شعوري پښتنو مخه هم د افراطينو او ورځچارو په واسطه په ډېر ښه ډول نيول کېدای شي.





په دې ډول په ژبنيو او فرهنګي مسايلو کې ژبنی فعاليت ټول د دوی په ګټه پای ته رسېده.

د احتياط کارو يوه بېلګه به هم وړاندې کړو، زموږ يو دوست ليکوال و، ګڼ شمېر کتابونه يې ليکلي ول، ده چې څومره مينه له پښتو سره لرله، همدومره ان تر دې زياته يې فارسي سره هم لرله. ده دا استدلال کاوه، چې پښتو بايد د فارسي په غېږه کې وده وکړي او له فارسي پرته يې وده ناشونې برېښي. ده فارسي ژبې ته د درې ژبو او پښتنو خدمت د افغانستان د ملي وحدت په ګټه کار باله، خو د پښتو پر وړاندې يې دري ژبې پر خدمت مکلف نه ګڼل، نو ده ځکه د خپلې ذهني او فزيکي انرژۍ يوه درنه برخه د فارسي ژبې خدمت ته بېله کړې وه.

ده ان په پېښور کې چې يو بشپړ پښتني چاپېريال دی، د خپلې خپرونکې جريدې ژبنۍ برخه په سلو کې (٦٠) فارسي او (۴۰) پښتو ټاکلې وه او د جريدې په سلو کې (۹۰) سرمقالې يې هم په فارسي ژبه وې. د پښتنو له خوا پرده باندې ډېرې اصولي نيوکې وشوې، چې دا کار په هېڅ معيار برابر نه دی، خو ده د زړه له کومي دا غوښتل چې زموږ دري ژبي ورونه خوشحاله کړي، ځکه يې نو ان په يو بشپړ پښتني چاپېريال کې هم د دري ژبنيو حقوقو ته په دومره درنه سترګه کتل.

ده په داسې يو چاپېريال کې کار کاوه، چې که آن دري ژبي هم د اخبار مدير وای، دري به يې دې کچې ته نه وای لوړه کړې، ځکه چې د چاپېريال غبرګون ته بهٔ يې طبعاً پام و، خو زموږ دې ليکوال خپل دا چلند که څه هم په ثرګنده يوه بې انصافي او ناانډولي وه، خو بيا هم د افغانستان د ملي يووالي او د ورونو قومونو په ګټه باله او تر وروستي حده خپل دې اند او چلند ته ربښتينی هم و، خو دومره تېرېدنې، زغم، صداقت، پر خپله ژبه ظلم او د بلې غوړونې بيا هم پښتو ضد اشخاص قانع نه کړای شول. د همدې شخص په اړه مې په کابل کې د يوه تن دري ژبي ورور له خولې واورېدل:

"او.... هم افغان مليتی است چندين کتابش به پشتو چاپ شده است" دې سره سړي ته هغه متل راياد شي چې "هندو ستړی او خدای ناراضه" د دا ډول اشخاصو شمېر په لسګونو، په سلګونو ان په زرګونه وو، چې له پښتنو نه يې





دري ته ډېر خدمت کړی دی، خو هغوی بيا هم د نشنلېزم له توره پاک نه شول. که موږ په افغانستان کې دري ژبې ته د شوي خدمت او کار جاج واخلو، نو که د افغانستان له تاجکو نه د پښتنو ونډه پکې زياته نه وي، نو کمه خو په هېڅ وجه نه ده. آيا بلې ژبې ته دومره ستر خدمت او خپلې ته دومره خيانت او له هغې سره د بې تفاوتۍ چلند به موږ د فاشېزم له نامنطقي تور څخه خلاص کړي؟ نه هېڅکله نه.

نو څه بايد وشي؟ ښه خبره دا ده، چې موږ بايد خپل ځان وپېژنو، خپله حافظه ترلاسه کړو، نه خپل حق نورو ته وبښو او نه د نورو حقوقو تر پښو لاندې کړو. ښه کار دا دی، چې پښتانه دې پښتو ته خدمت وکړي او دري ژبي دري ته، که ټول پښتانه لکه د دنيا د نورو قومونو او يا زموږ د دري ژبو ورونو په څېر د خپلې ژبې خدمت ته ورودانګي، نو بيا به پر څو برخو د پښتنو د وېش خبره هم له منځه لاړه شي. بيا به نو موږ هم نه په نورو ژبو کې مسخه کېږو، نه به له خپلې ژبې سره د خيانت په بيه د بلې ژبې د خدمت بار اوچتوو. نه به پر سلو ذهني او رواني ناروغيو اخته کېږو او نه به څوک رانه ګيله کوي، ځکه چې نورو ته د خدمت معيار به د هغوی د خدمت په معيار پورې تړلی وي. که هغوی زموږ ژبې ته په درنه سترګه کتل او د هغې خدمت يې خپله دنده بلله، موږ به هم د هغوی ژبې ته خدمت خپله دنده بولو او که نورو زموږ ژبه زېښبله او غوڅوله، نو زموږ ښه سړيتوب به دا وي چې خپله ژبه وژغورو، خو د بل هم غوڅه نه کړو.

زموږ وروري او دوستي بايد پر انساني اصولو ولاړه وي، راکړه ورکړه مو بايد پر عدل او انډول ولاړه وي، نه د اوښ او د لېوه وروري، چې هم يې بچيان له منځه لاړ شي او هم په وروری کې ملامت شي!؟

## غـزل

**باقي جان ماما**

که وخت راغی درنه وابه خلمه وار خپل
لکه تا چې په ما وکه پټ ګوزار خپل

همدغسې يو ګوزار به درته درکړم
ته وباسه يو څو ورځې انتظار خپل

په وطن کې دې سور اور راته بل کړی
خپل مقصد دې که ترسره په کرار خپل

په دوکه څوک افغانان تېر وېستی نشي
پېژندلی يې دښمن دی دوامدار خپل

په هرڅه باندې خبر زه باقي جان يم
خپلو ورونو ته مې وکه دا اظهار خپل

***

## د نشتر بابا په یاد کې

**عزیز الله ماموند "صادق زوی"**

زه هم پښتون یمه بابا ستا په قدم ځمه
کړېږم نه په دغه لاره سیده سم ځمه
که نن پښتو رانه څه غواړي سپمومه یې نه
د جنگ میدان ته په الله خورمه قسم ځمه
ددې پښتو د پرمختګ او سوکالی لپاره
زه نتواتی پښتنو له چم په چم ځمه
څوک پېښور کې ژاړي یا په کابل کې مړه شول
ټول پښتانه دي چې پالم ورسره غم ځمه
غماز زموږ کور کنډرې او ویجاړ ویجاړ کړ
توره رااخلم چې دا سر یې کړم قلم ځمه
بابا چې ته رانه په ګور کې هم خوشحاله اوسې
سر ور کومه خو پښتو ژوندی ساتم ځمه
عزیز مَېن دی د پښتو په هر غزل او ټپه
یا چې سندره کې یادېږئ یار صنم ځمه

***

## اور لړونی نظر

**شفیع الله تاند**

نور دې بانه زما د زړه په وینو مه رنګوه
د مرګ له پاسه مې قاتل جانانه مه زوروه

دا ښکلې اوښکې دې له ستر ګو چېرې توی مه شه
شبنم دې ونه ویني ګل له ځانه مه شرموه

د خمارو ستر ګو دې ځل رون اوسه تل لالیه
ایره دې شم خو اور لړونی نظر مه اړوه

ستا په کړو برندو کتو کې راته مرګ ښکارېږي
نن راته بیا جانانه بله پلمه مه جوړوه

***

## غزل

**سید آغا میاخیل**

روح مې والوځي د تورو غرو تر څوکو
هلته کېني شي ژړا په کوکرَ کوکو
لکه دیو لکه لېوان دي ځیني خلک
دا غریب ولس وهي په خپلو نوکو
زموږ د کلي غله هم لاړل شریفان شول
چې ماړه نه شول د توري شپې په شوکو
که مو ته د کوره ووځې تورابانه
موږه خوښ یو په پیر ګو او په تر وکو
تللل نور کوي په خپله طبعه خلک
موږ راغلي یو په ټول کې د املوکو
مینه غواړي دا مرغۍ مو هم میاخېله
زېړې پانې ګرځوي دوی په مښوکو

***

## غزل

**ف. حیا مي، اسمار**

ښه پوهېدمه چې ګوزار به کوي
زما په زړه کې یاره لار به کوي

زړ ګیه ما درته دا ویلي وو کنه
چې مینه کړې نو انتظار به کوي
رېباره غوښې به د زړه درکړم خو
که د یار کلي ته تلم څار به کوي
ښه په جار ووایه جانان مې دی دا
جانانه دغسې اقرار به کوي

ما حیامي په تا یقین کړی دی
دغسې ته په ما اعتبار به کوي

***





## غزل

**خیر محمد زهیر اسماری**

د خوشحالی په امید ځم خو په غمونو اوړم
د ژوند په لاره کې مدام په کړېچونو اورم
دې خپل ټپي ټپي احساس له د درمان په لټون
څومره چې ګرځمه نو هومره په دردونو اوړم
ما د خوښۍ کوڅه پیدا نکړه په دې کلي کې
چېرته چې ورشم بس په سترو فریادونو اوړم
ځواني مې وخوړه په کم عمر سپین ږیری شومه
مخکې له وخته د خپل ژوند په پړاونو اوړم
د بې وسۍ دریاب اخیستی یم لا څو پورې به
لکه کشتۍ دغرې خورم په توپانونو اوړم
نصیب مې خوار دی که تر خپله وسه هڅه وکړم
ایله بیله د کوم قارون په ذکاتونو اوړم
زه اسماری زهیر یو داسې ازلي بدبخت یم
چې ترې امان غواړم په هسې جنجالونو اوړم

***

## غزل

**عبدالحکیم حیران/کابل**

مینه چې مې لاړه د اغیار په غېږ کې وخته
هیله مې ایره شوه د انګار په غېږ کې وخته

ویې کړو اقرار ښه یې وعده د وفا وکړله
خېژي په وعدو هم د اقرار په غېږ کې وخته
یاد یې کړو سوګند لاس یې د عشق په کتاب کېښوده
مات یې کړ قسم بیا د انکار په غېږ کې وخته
لارو دراتلو ته یې اوتر اوتر کاته نظر
ساه د تلوسو د انتظار په غېږ کې وخته

نه ګناه زما وه نه د یار نه د اغیار ګناه
غلا ټوله حېرانه د رېبار په غېږ کې وخته

***

## غزل

**اجمل ښکلی**

د ژوند تیارو ځپلي یو، رڼا پېښه راوکړه
بدرنګ زړونه مو ښکلي کړه، ښکلا پېښه راوکړه
کلونه عمر تېر شو په پرون کې راایساز یو
زمونږه پسمانده ښار ته سبا پېښه راوکړه
ستا نوم له ښکلیو هېر دی په جفا جفا عادت شول
لږ ځان خو ورته وښیه وفا پېښه راوکړه
زموږ د چم هوا ستا له خوشبو سره عادت ده
زموږ د چم ګلاب ښکلا پېښه راوکړه
مودې وشوې چې بیا دې له کتو برخمن نشوم
لږ زړه ته راننږدې شه، لږه بیا پېښه راوکړه
ما دروغ ګڼلو غم، زما په مینه ایمان نه و
دې دواړو ظالمانو خو رښتیا پېښه راوکړه
اجمل به د الفت نښهٔ سور ګل مخې له وروړم
زموږ ویرژلي چم ته که خندا پېښه راوکړه

***

## غزل

**عصمت الله ملنګ**

د زړه ټوټې مې په انګار وختې
اجل نیولې وې په دار وختې
په شمع وسوې د پتنګ وزرې
وړې سلګۍ یې په قرار وختې
په زړه مې وشوې د اعدام فیصلې
بې له ثبوته په اقرار وختې
تپه تیاره مې شوه د زړه نړۍ کې
د غم لښکرې مې په ښار وختې
بې ګناه سترګې خو مجرمې نه وې
چې جنازې یې په یو وار وختې
بس حوصله مې نوره پاتې نشوه
عصمت غزلې په تلوار وختې

***





## غزل

**محمد ابراهیم حقمل ساپی**

خدایه ښاپېرۍ په کلي راوله
هغه ګل غوټۍ په کلي راوله
بیا کړه دا نورتم کوڅې رڼا رڼا
نن هغه سپوږمۍ په کلي راوله
تله په قدمو لکه کونتره به
هغه بغدادۍ په کلي راوله
اوس دغه یو سوال مې کړه قبول خدایه
یو ځل شین خالۍ په کلي راوله
زه تري د ټپي زړ ګي بدل اخلم
هغه پنجابۍ په کلي راوله
کړم چې پرې حقمل ساپی ژړا خدایه
اوښکې او سلګۍ په کلي راوله

***

## غزل

**سعدالله فطرت/پېښور**

زما ځان زما زړ ګی شولې جانانه
اوس ایله د کار سړی شولې جانانه
ته چې لاړې کلی ټول خزان شو
خو چې راغلې پسرلی شولې جانانه
تا به پرېدمه بل ښکلی به جانان کړم
دا څه وایې؟ لېونی شولې جانانه
اوس به نه مرور پېږې نه به ناز کړې
اوس ماشوم نه یې زلمی شولې جانانه
د راتللو چې دې واورې زړه مې رپي
په والله چې سم مرګی شولې جانانه
چې مو زړونه، روح او وینه سره ګډ دي
عجیبه ده چې پردی شولې جانانه

***

## چې په اوښکو کې لمبېږم

**سید عبیدالله نادر**

د خودۍ مقام ته هغه وخت رسېږم
سر ترپایه چې په اوښکو کې لمبېږم
چې ځان وګورمه کله د پښو خاورې
بې اختیاره په خپل حال باندې ژړېږم
کله ځان راڅخه ورک شي په لټون کې
یو ګړی چې په مانا کې زه ډوبېږم
عاجزي چې مخامخ سترګو ته راشي
په محفل کې لکه شمع ویلې کېږم
دا چې زه یم په ټول عمر ژړغونی
د فاني دنیا په مکر ښه پوهېږم
صاحبدل په دې خبرو باندې رسي
د غافل په نظر هسې زه ویېږم

***

## غزل

**حمیدالله حمید**

په دې سترګو خمارو مې ولې، ولې؟
د راکټو په ګولو مې ولې، ولې؟

اول وښایه ګناه بیا مې پانسي کړه
لېونی په تمانچو مې ولې، ولې؟
ما غریب باندې لږ رحم اشنا وکړه
د همزولو په منګو مې ولې، ولې؟
په مشین باندې مې وله خپه نه یم
په ملالو سترګو مړو مې ولې، ولې؟
خیر دی مینه که له ما سره د زړه نه کړې
په خورینو منګوټو مې ولې، ولې؟

زما حمید چې کله زړه په تا مَېن شو
دا ګناه مې راته معاف کړه په غرګو مې ولې، ولې؟

***





# خپلو شاعرانو، ادیبانو فنکارانو ته

**اجمل خټک**

زما د ګل وطن د فکر و فن خوږو ملګرو
د رنګ او د شعور د رڼاګانو سرو بڅرو
ای څه شوئ، څه شوئ، څه شوئ، چرته لاړئ که اوده شوئ
غټانو رانه وخوړئ که بې اجله مړه شوئ
د غر په دغه لوړ سر چې دا سپین ستوري ځلېږي
دا مستې پلوشې یې رڼې اوښکې دي ژړېږي
د لوی وطن ښاپست مو دلته لوټ هلته تالا شو
زما او ستا پښتو او غېرت لاړ د چا او چا شو
دا ولې مو ژوندون راته تنور لکه سور اور دی
دا ولې مو د پلار نیکه خپل کور راته نن ګور دی
دا ولې مونږه هرڅه، هرڅهٔ یو، ولې هیڅ نه یو
لږ وغړوئ سترګې په دنیا کې مونږه څه یو
دا ولې دا څه وشو څه روان دي دا څه کېږي
ترڅو به دا اسمان را اپوټه په موږ څرخېږي
بس وشوه، وشوه، وشوه، راشئ وګورئ جهان ته
خپل کور خپلې پښتو ته، خپل سبا ته او خپل ځان ته

راځئ د خپلې وينې، مينې، ډکه خاوره ښکل کړو
راځئ دا تنور شوی جنت ګل کړو، ګل کړو، ګل کړو
قلم تـه مـو د خپل بابا، د توري ځلا ورکړو
وطـن تـه مـو د ننګ او پت د مينې رڼا ورکړو
ادب د تـاتړې د سـر د سـتورو پلوشې کـړو
هنـر د اباسـين د ملغلـرو شـنې چپـې کـړو
شـعور مـو د غيـرت د ډک هـډونو ولـولې کـړو
دا فـن مـو د ژونـدون د ګـډاګانو زمزمـې کـړو
د خپـل ښايسته وطـن پـه تپـو مستـه دا فضا کړو
دا خوار سپېره خيرن ماحول، موسکا، موسکا، موسکا کړو
د فکـر و فـن لالونـه مـو ايـرې پټـوی نـه شـي
د ننـګ و پـت زخمونـه پـه چـل ول جوړېـدی نـشي
راځئ چې د وطـن ارمـان شعرونو کې نغمـه کـړو
راځئ چې د غيـرت دا پرهرونـه سـره غنچـه کـړو
زمـا د ګـل وطـن د فکـر و فـن خـوږو ملګـرو
د ننـګ او د شـعور د رڼاګـانو سـرو بخـرو
دا ستاسـو د قلـم، شـغلې بـه مينـه د وطـن شي
ولس بـه هم ژوندون شي هم ښکلا شي او هم فن شي

***





## ستوری د ملي وحدت ستر امام

**شبير خان دراني**

ستا کمـی بـه پـوره نـشي تـر قيامـت
تـاتره وې تـاتره د ننـګ غيـرت
د قلـم نـه دې قربـان سـوچ نـه لـوګی شـم
سـتر عاشـق وې د افغـان ملـي وحـدت
لـوځې پـښې دې مزلونـه پـه ازغـو کـړل
پـه تکـل وې پـښتون قـام لـه د راحـت
د بچـو نـه درتـه ګرانـه پـښتونخوا وه
تـر مرګـي دې پـرې ونـه کـړو مـصلحت
تـه اميـد وې د سـحر د رڼاګـانو
د سبا سـتوري نـه لـوړ وې پـه عظمـت
تـر ابـده بـه يـادېږې تـر آبـده
پـه خلـوص، وفـا، ايثـار او محبـت
د شـعرونو نـه دې داسـې محـسوسېږي
خبـردار وې پـه انجـام د خپـل ملـت
تـا بـه وې ستاسـو بقـا پـه کلـک تـړون ده
جـدا نـشئ د يـو بـل هـيڅ قيمـت
د ډالـرو پـه تيـارو کـې رانـه روک شـو
د سـبا سـتوري ځلنـده نـصيحت
لړ راستون شه لړ راستون شه کبير جانه!
لـر او بـر درتـه يـو شـان يـو ملامـت
د آمـو نـه تـر جهلـم اورونـه بـل دي
پـښتانه پراتـه پـه وينـو کـې لـت پـت
اوښـکې وچـې د خيبـر او هنـدوکش کـا
کـړه پـه ګوتـه پـښتنو تـه حقيقـت
کفـن وشـلوه راپاڅـه کبيـر جانـه
د پـرون نـه دې نـن زيـات دی ضـرورت
د نفـاق اورونـه مـړه د پـښتونخوا کـا
پرښـته شـه لـر او بـر کـې د رحمـت
د قلـم خاونـدان ډېـر دي درانيـه
کبيـر سـتوری سـتر امـام و د وحـدت

## ځلنده ستوری

**ګل محمد مسرور ساپی**

سـتوری د ادب د دنيـا سـتوری و
سـتوری رښـتيا بانـدې رښـتيا سـتوری و

ستوری څه يواځې د بصير، نصير، نسيم نه و
سـتوری سـتا او زمـا د هـر چـا سـتوری و

سـتوری ورورولـي مينـه خلـوص وو بـس
سـتوری ژونـد د ژونـد نـه پيـدا سـتوری و

نـه يـې و پـه زړه کـې څـه نفـرت کرکـه
کرکـې د نفـر نـه صـفا سـتوری و

نرمـه سـخته هـر حالـت کـې روڼ تنـدی
هـر حالـت کـې خـدای نـه رضـا سـتوری و

کـړه يـې د خپـل ذات تپـه پـه جـاره تـل
ځـار د ذات لـه نومـه فـدا ستوری ستوری و

ګـل لکـه د خپـل عمـل پـه زور بانـدې
يـو شـان د اشـنا او نااشـنا سـتوری و

الفاظ لکه د ليک پـه سـپين کاغـذ د ژوند
لاس د هـر قـاري کـې ګويـا سـتوری و

و د ابـدالي، محمـود، خوشـال بچـی
پـوره هـم پـه دې وصـف ثنـا سـتوری و

شـته مـسروره ډېـر ادبـي سـتوري خـو
کـوم چـې وو سـاپو کـې هغـه سـتوری و

***







# د ستورو قافلې

**چلوونکی: محمد داود صديق يوسفزی**

سيد عبيدالله نادر د مرحوم سيد نادر پاچا زوی، د کونړ د ساداتو لـه کورنۍ څخه دی. د نوموړي د پلرونـو اوسېدنه لـه ډېـرې مـودې راهيسې د لغمان د چهار باغ په پاچا کلي کې شوې ده، نو له همدې لامله نوموړی پر ۱۳۳۰ل کال په همدې کلي کې زېږېدلی دی.

د مور لـه خوا د وطن د يـو نامتو علمي، ادبي، فلسفي، سياسي او نظامي شخصيت اروابناد جنرال سيد حسن خان لمسی دی، چې د وطن د سوکالۍ لپـاره يـې خپـل ځـان لـه وطن څخه قربان کړ. د اتو مياشتو و، چې مور يې مړه شوه، د يوولسو کـالو پـه عمر کې و، چې پلار يې هم مړ شو.

پلار يې چې يو عسکري صاحب منصب و، د ۱۳۴۱ل کال له پيل څخه د سرطان پـه رنځ اخته شو، چې د همدې کال تر پايه د سرطان د ناروغۍ له لامله مړ شو.

په دې توګه يې دويم غمخور (پـلار) چې راتلونکي ته يې سترګې پـه لار و، هم لـه دې فاني دنيا نـه د تـل لپـاره خپلې سترګې پټې کړې.

هغه پاتې شو او د فاني دنيا لوبې. دا چې ټول اصلي غمخواران (پلار و مور) يې لاړل او د ژوندون په دې بيديا کې ورته ځوک پاتې نه شو او بل داسې غمخور چې د پلار او مور ځای يې ونيسي نه و، چې د زده کړې او تعليم تـه يې پاملرنه وکړي. مېره يې هم چې له پلار څخه يـې کونـډه پـاتې شـوې وه، هغـه هـم د ډېـرو ناخوالو سره مخ شوه. د خورا غربت لـه لامله ورسره د لوړو زده کړو وس او توان نه و، نـو لـه همدې لامله يـې زده کـړې تـر دولسم ټـولګي پورې وکړې، چې پر ۱۳۵۱ل کال د تنګـهار لـه لېسې څخه فارغ شو.

پر ۱۳۵۶ل کال تر عسکري خدمت وروسته د دولت په چارو کې د مامور پـه توګـه وټاکل شو. ماموريت يې د لوړو زده کړو په وزارت کې و، خو د ماموريت دورې يې ډېر دوام ونه کړ، ځکه چې پر ۱۳۵۷ل کال د تره کي کمونېستي کودتا وشوه او په افغانستان کې کمونېستي پلوه يا رسوي پلوه رژيم منځ ته راغی.





د همدې کال (۱۳۵۷) د ميزان په لومړۍ نېټه په تنکۍ ځوانۍ کې د لومړنيو مهاجرو په ډله کې لومړی ايران او بيا له څلورو مياشتو وروسته پاکستان ته مهاجر شو.

دا چې د لوړو زده کړو وس ورسره نه و، نو پخپل زيار يې تر کومه ځايه چې د زمانې اړتيا وه، ځان رسولی.

د شعر بڼه يې تعليمي، تربيوي، انتباهي، اخلاقي، اصلاحي، تصوفي ا د علم او معرفت په هڅونې کې ده. ځينې ځايونو کې په شعرونو کې په تېره د وطن د دردمنو بچيانو لپاره د خوږ زړه ژړا ده، چې د معرفت خاوندان يې په ښه توګه درک کولای شي.

ځينې شعرونه يې انتباهي بېداروونکې بڼه لري، په تېره د هغـه کسانو لپـاره چې د فـاني دنيا پـه مکارۍ تېروتلي دي.

لکه دا څو څلوريځې:

چـې مـې پورتـه پـه غـرور کـړل قدمونـه
لـه دې خـاورو نـه تـر غـوږ شـول اوازونـه
قـدم ورو ږده ای نادانـه بـې خبـره
چـې ککـري دي، مخونـه دي لاسـونه

***

چې مغـرور وو پـه خپـل مـال او خپلـو ګټـو
وياړېـدلو پـه طاقـت د خپلـو متـو
د کـلال پـه کارخـانې کـې اوس جـوړېږي
صـراحي منګـي زمـوږ لـه خـاورو ختـو

***

څرنګه چې د علم حاصلول د ننني ټولنې لپاره لويه اړتيا ده، نو نادر هم په دې اړه د علمي هڅونې لپـاره ډېـر شعرونه او ادبـي پـارچې ليکلي دي:

کـه راتلـونکې د بـشر غـواړې روښـان
معرفـت پـه غېـږ کـې وروزئ بچيـان

***

ماتـه ژبـه د فريـاد لکـه بلبـل را
چوپـه خولـه کـې پـه چوپتيـا وينـا د ګل را
چـې محـرم شـمه د ټـول عـالم د زړونـو
علميـت او بـصيرت د صـاحبدل را

***

له ۱۳۵۴ کال راهيسې د عبيدالله نادر شعرونه او مضامين په مجلو او اخبارونو کې چاپ شوي دي، خو ښايي دا زياته کړو چې له (۱۳۷۴) ل کال راهيسې د جلاوطنۍ په مطبوعاتو کې ډېر چاپ شوي دي.

د نادر شعرونو او نثرونو د هغې وخت له حالاتو سره سمون خوړه، ځکه د شعرونو، نثرونو، مطالبو او ادبي ټوټو بڼه يې تربيوي، اخلاقي، تعليمي، انتباهي، اصلاحي او د سولې او امن د راوستلو په هکله وو.

د دوو لـسيزو راپـه‌دېخوا د هغـه مجلـو او اخبارونو نومونه، چې د عبيدالله نادر شعرونه پکې چاپ شوي، دا دي: انکشاف، برګ سبز، ندای تعليم، رڼا، دعوت، مشعل دانش، ورځ، رنګين کمان، ستوری، نړۍ، نوبهار، کندهار، او نور.....

د شعر په هکله سيد عبيدالله نادر وايي: "زما په اند شعر يو الهام دی، چې د انسان له ژور نظر او اندروني احساس او زړه سواندې څخه سرچينه اخلي."

***

شېر زمان صادق

# د جنګونو ډګر افغانستان

هر څومره که سړی فکر وکړي، خو زړه ته دا خبره پرېوځي چې ووایي افغانستان د جنګونو ډګر دی، په دغه سپېره او آزاري خاوره کې هر ډول وسله وال خپل جنګي مشقونه ښه اجرا کولای شي. دا ځکه چې دلته څوک له خپلې خاورې، وطن او خلکو سره د آبادۍ او پرمختګ او مینې پرځای د وروسته توب او ویجاړۍ زیات لېوال او تمایلات لري، نو هغه یو متل دی چې وایي (غواړې، نو پرې واوړې).

هو، هغه جنګي ډلې ټپلې یا د خپلو هېوادونو نه فراري او شړل شوي خلک هېڅ وخت خپل وطن نه ورانوي، ښوونځي، مدرسې، روغتونونه، سړکونه او نور عامه تاسیسات نه خرابوي، نه خپل خلک وژني او نه یکې چا ته کافر او جاسوس وایي او نه څوک په غېر د خپل ملا نه د بل ملا صیب په آزانه جل جلا له وایي، خو افغانان دي چې له خوږې ګوتې نیول شوي دي، څوک یې په ډالرو غولوي، څوک یې په ریال، کالدارو او تومن غولوي، د چا په لاپو شاپو او وعدو غولېږي او د چا په چلتار، لنګ، جوسه او صورت تېر وځي، چې بدبختانه دغه دېرش_دوه دېرش کاله کېږي، چې خپل پلرنی ټاټوبی یې په کنډواله بدل او په ګولیو سوری سوری کړو، خو چېرې هم نه مولانا صیب نظر ورکوي او نه قاضي صیب دا پرېکړه وکړه، چې خلک دې خپل وطن په خپل لاس وران کړي. برعکس ددغه معزيزینو پرېکړه او نظر دا وي، چې افغانستان دې وران شي، افغانان دې مړه شي، دا ځکه چې نه ورته افغانستان اسلامي هېواد ښکاري، نه ورته د افغان ولس اسلام، اسلام ښکاري، نه یې ورته جهاد، جهاد ښکاري، دا ځکه چې کار پوره او هندو غره شو.

که فکر وکړو، نن سبا اټوم او نېټروم غوره پرمختګ او طاقت پیدا کړی دی، په نړۍ کې الکترونیکي او کمپیوټرایز سیستم حاکم دی او خلک په خلا کې تجربې کوي، ولې زموږ په سیمه کې اوس هم د هاغې په غوږ کې زموږ وګړي ویده پراته دي. هېچېرې دوی نور څوک په خپله لار رانه وستل، خو دوی تل د نورو په لاربښوونه قدمونه اخلي او د هغوی په لاره روان دي.

اخر دومره خوش باوري، خو یکار نه ده چې خلک د سړي ددغه ډول روغ نیتۍ او خوش باورۍ نه غلطه ګټه واخلي او په روغ لاس وریاندې خپل کور کلی وران کړي. بل هغه جنابان دې هم لږ په خپل ګرېوان کې سر ښکته کړي، اخر خدای؟ ته ورتګ دی، نور دې افغان ولس پرېږدي، چې خپل وطن جوړ کړي، بچي یې تعلیم وکړي، انجنیران او ډاکتران جوړ شي. دغه په اروپا کې خواره واره افغانان خپل ټاټوبي ته راشي او په ګډه د خپل هېواد د ابادۍ لپاره متې راونغاړي او یو ځل بیا خپل هېواد د سیالانو په کتار کې ودروي او دغه جنګي فرهنګ ته د پای ټکی کېښودل شي.

***

ادبي ټوټه

## زموږ کلی

محمد نسیم خوږیانی

زموږ کلی په یوه ګوټ کې پروت دی دې کلي له ډېر پخوا راهیسې یوه ځانګړې ریښایي درلوده، دلته د پسرلي او ژمي او هم د شپې او ورځې ترمنځ کوم توپیر نه تر سترګو کېده ټول کلي یومشر درلود، هر چا د خپل توان په اندازه ځانله جونګړه جوړه کړې وه او وګړي یې ډېر ارام ول.

له ګاونډیانو سره مو راکړه ورکړه نه درلوده، ټولې ستونزې همدلته اوارېدلې، خو له کومې ورځې چې ګاونډیانو ته زموږ د کلي راز ښکاره شوی، له کږو لارو دې کلي ته رادننه شول زموږ په کلي کې یې د کر کې تخمونه وکرل، د کلي هغه ځانګړې روښنایي له منځه ولاړه، مشران وار په وار بدل شول، په اسمان کې تورې وریځې راخورې شوې، تندریز بارانونه واورېدل، خړ سیلابونه راغلل، زموږ جونګړې یې له یوې مخې واخیستې موږ هم له دې حالت څخه د نجات په هیله په یوه ماته بېړۍ کې سپاره او په یوه ناپایانه سمندر ورګډ شوو، چې د سمندر توپاني څپې مو هره شېبه د نابودۍ د کندې په لور ورټېل وهي.

خدای خبر چې زموږ دا ماته بېړۍ به بیا خپل ګودر ومومي او که نه؟!!







# د رحمان بابا مزار والوځول شو

انجنیر فضل هادي فضلیار

د کب په ۱۵ مه نېټه ورځ ګهیځ مهال، پېښور سره نږدې د هزارخانې په سیمه کې د پښتو ژبې د نومیالي صوفي شاعر حضرت عبدالرحمان بابا مزار د ناڅرګندو ورانکارو لخوا په چاودېدونکو توکو والوزول شو. ورانکارو د شپې لخوا د رحمان بابا قبر ته بمونه ایښي وو، چې سهار مهال وچاودېدل او په مزار کښې پروت هر شی یې ذرې ذرې کړ.

د خدای او سېدونکو په وینا چاودنه دومره زوروره وه چې د ټول کلي خلک یې له سختې وېرې سره مخ کړي و او له امله یې په مزار کې پروت هر شی تس نس شوی و، خو بیا هم د لوی خدای په فضل د ودانۍ بنیاد او بنسټ روغ پاتې دی.



دا چې د چاودنې پر مهال په مزار کې څوک موجود نه و، نو ځاني زیان او مرګ ژوبله یې نه ده اړولې خو د پښتون قام سر سختو دښمنانو په خپل دې بې شرمه او نا بخښوونکي جنایت سره د ټولو پښتنو زړونه مات کړي دي.

سره له دې چې دښمنان هیڅکله هم د پښتنو د ژوند، پوهې، کلتور او .... د له منځه وړلو څخه لاس په سر شوي نه دي تل یې زموږ په سرونو بمونه راغورځولي، زموږ په مریو یې چړې پخې کړې، زموږ د کوچنیانو ښوونځي یې راسوځولي، زموږ تاریخي او ادبي ویاړنې یې له منځه وړي خو دا ځل هغوی موږ ته دا پیغام راکړ چې نن ورځ نه یواځې دا چې ستاسو ژوندي په کړاوونو اخته دي بلکې مړي مو په قبرونو کې هم خوندي نه دي

که څه هم دافغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت چارواکو د رحمان بابا د مزار د بیا جوړولو لپاره سینه ډبولې او پاکستاني ولسمشر اصف علي زرداري هم دا خبره کړې خو پوښتنه داده چې دا ډول عمل ولې د جناح یا د اردو او نورو سیمه ایزو ژبو د وتلو شخصیتونو له مزارونو سره نه کیږي؟

د ډېرو نورو لاملونو تر څنګ یې یو ښکاره لامل دادی چې هلته امنیتي تدابیر شته خو د پښتنو د منلي او په زړونو کې پروت بابا د مزار د امنیت په کیسه کې څوک نه و او نه دي. له دې دردوونکې پېښې وړاندې هم د رحمان بابا مزار د خطر له ګواښ سره مخ و. خو د پاکستان امنیتي چارواکو پرې غوږ نه و ګرولی.

د تېر کال د ورې په میاشت کې یوې سخت دریځې ډلې په دغه مزار کې د کلنۍ مشاعرې جوړوونکو ته ګواښ کړی و چې له امله یې د څو لسیزو راهیسې کېدونکې دغه دوه ورځنۍ مشاعره د یوې ورځې لپاره، هغه هم په داسې حال کې ترسره شوه چې ډېرو کمو شاعرانو په کې ګډون کړی و. نن دغه تاریخي مشاعره، په داسې حال کې چې د ترسراوې ورځې یې رانږدې دي، د امنیتي ستونزو له امله د نه ترسره کېدو له وېرې سره مخ ده.

له بل پلوه دا هم ردېدای نشي چې دا کار دې د نړیوالو یرغلګرو په تونګ او لمسه، خپلو شومو موخو ته د رسېدو لپاره ترسره شوی وي. موږوینو چې په عراق کې د نفاق او بېلتون خورولو او د عراقیانو په خپلو کې جنګولو په موخه ډول ډول توطیې په کار اچول کیږي یوه له دغو دسیسو څخه د زیارتونو ویجاړول او په بمونو الوزول دي چې له امله یې هلته د شیعه او سني تر منځ اختلاف او بېلتون تر وروستي برېده رسېدلی دی که فرضاً حقیقت همداسې وي بیا هم مسئولیت د سیمې دولتونو او په ځانګړي ډول د پاکستان دولت ته ورګرځي چې باید په داسې حساسو شیبو کې د رحمان بابا په څېر د محبوبو او خلکو ته منلو شخصیتونو د مزارونو امنیت ساتلو ته جدي پام وکړي.





# تیـــاره او رڼـــا

**اروابناد استاد گل پاچا الفت**

نـه پـوهېږم خـوب دی کـه بیـداري؟ خیـال دی کـه حقیقـت؟ دنیـا پـه تیـاره او تروږمـی کـې واقـع ده، لـه شرقه تر غربه تور تیکری غوړېدلی، هر څومره چې یوه خوا بله خوا گورم، هیڅ نه گورم.

هر لور تـه تـورتم او تپـه تیـاره ده، زه گومـان کـوم پـه داسې کـره کې یم، چې د انسان هوس پکې هیڅ نه دی کرلی او نـه د تمـدن لاس پکې څـه نقش او نگـار کړی او دا یـوه طبیعـي او سـاده منطقـه ده، چې د فکـر او کـار اثـر پکې نـه شـته. ټول مخلوق ویـده او دنیـا پـه هماغـه پخواني حـال پـاتې ده، هیڅ تغیـر پکې نـه دی پېښ شـوی، ځکـه چې زه څه نـه وینم. زما په نظر کې دنیـا پـه خوب ویـده او خپه خپه ښکاري.

زه گومـان کـوم، چې دنیـا د خـوب زانگـو ده او خلـک پکې غلـي پراتـه او یـو پـه بـل اړه او غـرض نـه لـري. زه تـصور کـوم، چې دنیـا یـو سـپېره ډاگ او وچـه بیـدیا ده، هیڅ پکې نـه شـته. د هـر چـا لاس تـش او خـالي دی، خبر نـه یـم چې څـه شـته خـو زه د جهـل پـه تیـاره کـې پټې سترگې پروت یم، څه نـه وینم او دا هغـه دنیـا ده، چې د بـشریت معمـوره گرځېـدلي او بلـه شـوې، زه پـه همـدې تیـاره او بې خبـری کې، چې یو ناڅاپـه سپینه رڼـا پیـدا شوه او د دنیا بازار راته ښکاره شو.

نـه پـوهېږم دا رڼـا لـه څـه شي پیـدا شـوه؟ د حقیقـت معشوقې مخ ښکاره کـه او کـه د علم لمر لـه پخوا وختونه د صبح صادق قاصـد راولېږه او کـه د بـشر د حکمـت بـرق او برېښنا وه. خیـر هرڅـه، چې و، خـو نوې دنیـا یې لـه هر شي ډکه پکـه راوښوده، چې هر څوک یې محتاج او هر څوک لـه مانه بې نیـاز و. هـر چـا هرڅـه درلـودل او هر شي نـوی رنـگ پیـدا کـړی و. میخـانیکي اسـبابونه پـه کاینـاتو کـې عجیـب او غریـب تحـول څرگنـد کـړی او د هنـر کیمیـا وسـپنې تـه پـښې او وزرونـه ور کـړي. پـه دنیـا کـې بلـه دنیـا جـوړه شـوې، د دمـاغ او زړه خونـه نوې شوې، نوی فکـر، نوی خیـال پیـدا شـوی. زه عـلاوه پـه دې، چې پـه مادیـاتو کې برخه نه لرم، یو سر او دوه غـوږه یـم، پـه مـانوي هـستی کـې هـم لکـه الـف هـیڅ نـه لـرم. زه داسـې ښکارم لکـه چې لـه کـومې بلې کـرې څخـه ځمکې تـه نوی راغلی یم.

هـو! زه د بـې خبـری او بېکـاری لـه دنیـا د علـم او عمـل دنیـا تـه نـوی راغلـی یـم. زه لـه خوبـه نـوی راپاڅېدلی یم، پس لـه دې بـه لکـه وړوکـی هلـک د یوه شي او بل شي نوم زده کوم او هـر شـي تـه بـه د تعجـب پـه سترگه گورم.



## غزل

**عرفان الله کوټوال**

د خپلـه لاسـه یـوې تـورې لـویې بـلا وخـوړو
پـه چـل یـې سـوړه کـې د نورو نه پـه غـلا وخـوړو

پخپلـه خپټــه لا هغــه د غــرور لاس راکــاږي
چـا لا پروسـکالې خـوړلې وو، چـا بېگـا وخـوړو

څوک د آرام پـه امیـد سـتړي شـولو شـپې لټـوي
مـوږ پـه دا دومـره لوی تـور تم پـسې سبا وخـوړو

څوک به مو غوږ ددې معیوب فکر وینا ته کېږدي
او کـنـه مـوږ خـو ددې خپـل ذهـن ژړا وخـوړو

لکــه د بــل د پټــي فــصل یــې تــالا والا کــړو
مـوږ افغانـان یـې څـه پـه زور څـه پـه سلا وخـوړو

زمـوږه تـوره، زمـوږ متـې او بـس مـوږه وژنـي
کوټوالـه مـوږ د خپلـو مـاتو خولـو وینـا وخـوړو

***

## څلوریزه

**بصیر بیدار ستوری**

سـترگې وغـړوه وگـوره گرېـوان کـې
چې ښـلات کـړې او کـه گټـه پـه تـاوان کـې

چې څـه وکـرې هاغـه څـه بـه ریبـې
ښـه کـوه اوبـه یـې نـه وړې پـه یـو شـان کـې

## د ستوري استازي

| | |
|---|---|
| کابل | استاد عبدالظاهر شکیب |
| ننگرهار | شفیع الله تاند |
| کونړ | نعمت الله کریاب |
| اسمار | طارق سالارزی |
| لغمان | امین الدین |
| باجوړ | سید اغا میاخېل |
| پېښور | ذبیح شفق |
| جرمني | نسیم ستوری |

## پته:

د کونړ ولایت، د خاص کونړ ولسوالي، د تنر کلی (طلایي بانډه)، د ستوري د خپروني اداره

کوټوال: 0772931465
حیات: 0774322484
کوچوان: 0772935377

***

ستوری مجله د هېچا د لیکنې ننگه نه کوي، هرلیکوال ته بویه، چې د خپلې لیکنې سپیناوی پخپله وکړي
ستوری مجله به هغه لیکنې نه خپروي، چې اسلام، هېواد او ملي یووالي ته په زیان تمامېږي

***


# Stori ستوری

خپلواکه، ادبي او کولتوري خپرونه

*****

د امتیاز څښتن: د خاص کونړ ادبي او کولتوري ټولنه

مسئوول مدیر: عرفان الله کوټوال  مرستیال: هدایت الله حیات

کتنیلاوی: بصیر بیدار ستوری، محمد داود صدیقي، عصمت الله ملنګ، فضل الهادي عاصم، میرسلام مجاور، کلرنک کوچوان

سلاکاره ډله: څېړنیار وجیه الله شپون، عبدالقیوم زاهد مشوانی، شفیع الله تاند

همکار غړي: رحیم الله خان، داود شاه داود، صادق فقیر، رضوان الله شپون

د " ستوري " استازي:

کابل: عبدالظاهر شکیب  ننګرهار: شفیع الله تاند  کونړ: نعمت الله کریاب  اسمار: طارق سلارزی

لغمان: امین الدین  باجوړ: سیداغا میاخیل.  پېښور: ذبیح شفق  جرمني : نسیم ستوری